د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 483**

(29 سرطان - 04 اسد 1404 هـ ش)

## پر سوريې د اسراييلو بريد؛ موخې او راتلونکی

---



دا نشريه د افغانستان او سيمې د مهمو سياسي، امنيتي، اقتصادي او ټولنيزو پېښو د تحليل اوونيزه خپرونه ده چې د ستراتيژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګليسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- پر سوریې د اسراییلو برید؛ موخې او راتلونکی ........................................................ 3
- دروز څوک دي؟.............................................................................................. 3
- د سوریې حکومت او دروزو لړکیو ترمنځ ولې شخړه رامنځته شوه؟ ...................................... 4
- پر سوریې د اسراییلو د برید موخې ................................................................ 5
- راتلونکې پایلې ............................................................................................ 7
- پایله ........................................................................................................ 8
- وړاندیزونه .................................................................................................. 9
- سرچینې ...................................................................................................... 9


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## پر سورېې د اسراییلو برید؛ موخې او راتلونکی

### سریزه

اسراییلو د ۱۴۰۴ هـ.ل. کال د چنګاښ میاشتې پر۲۵مه نېټه د سورېې پر پلازمېنې دمشق برید وکړ او د دې هېواد د دفاع وزارت ودانۍ یې په نښه کړه چې په پایله کې یې یوه برخه ړنګه، ۳ وګړي مړه او د دې هېواد لس ګونه نور وګړي یې ټپیان کړل. د چهارشنبې ماسپښین د اسراییلو لومړي وزیر بنیامین نتنیاهو د خپل هېواد دروزي لړکیو ته یو ویډیویي پیغام خپور کړ. هغه له خپلو دروزي وګړو وغوښتل چې د سورېې السویداء سیمې ته د خپلو دروزي قومیانو د ملاتړ لپاره سورېې ته داخل نشي، بلکې موږ منحیث د یوه دولت د هغوی دفاع کوو. د ده د ویډیوي پیغام څخه څو دقیقې وروسته اسراییلي پوځیانو د سورېې پلازمینه دمشق بمبار کړ.

دا چې اسراییلو ولې برید وکړ؟ دروز څوک دي؟ دروز او د سورېې مرکزي حکومت ولې سره په جګړه دي؟ او د دې جګړې راتلونکې پایلې به څه وي؟ دا هغه پوښتنې دي چې په دې تحلیلي لیکنه کې به ځواب شي.

### دروز څوک دي؟

دروز ځانونه "موحدین" ګڼي، یعنې د خدای په وحدانیت او یووالي ایمان لري او ځانونه "بنو معروف" بولي، ویل کېږي چې د دروز نوم (نشتکین درزي) ته ورګرځي، چې له خپلې کړنلارې منحرف شو او د نوې کړنلارې د خپرولو لپاره لبنان ته وتښتېد. دروز په دې باور دي چې الله تعالی یو دی او د کایناتو ابدي سمبالوونکی دی. داسې انګېرل کېږي چې دا فرقه په لسمه پېړۍ کې د فاطمیانو د واکمنۍ پرمهال له اسماعیلیه ډلې جلا شوې وه، خو ځینې څېړونکي دا یوه خپلواکه عقیده لرونکې ډله ګڼي.[1]

دروز په لویه کچه په لبنان، سوریه، اسرائیل او اردن کې مېشت دي. په لبنان کې نږدې درې لکه او پنځوس زره، سوریه کې نږدې اووه سوه زره او اسراییلو کې یو لک او پنځوس زره دروزیان اوسېږي.[2]

په سوریه کې د دروز تاریخ شاوخوا زر کاله مخکې وخت ته ورګرځي، دوی په ۱۱۸۷ ز. کال کې د "حطین" په جګړه کې له صلیبیانو سره وجنګېدل او د ایوبیانو او زنګیانو باور یې ترلاسه کړ. په سیمه کې یې خپل حضور پیاوړی کړ او د رهبرۍ ډېری دندې یې تر لاسه کړې. وروسته دروز د عثماني خلافت پر وړاندې پاڅون وکړ ځکه چې عثمانیانو څو ځله هڅه وکړه پر جولان غره خپله ولکه ټینګه کړي. په ۱۹۱۱ز. کال کې، عثمانیانو د غره د کنټرول د ټینګولو وروسته د "ذوقان الاطرش" او یحیی عامر په مشرۍ د غره مشران اعدام کړل.




Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د دې ترڅنګ کله چې د اسراییلو دولت جوړ شو، ځینې دروز په اسراییلو کې پاتې شول او ځینې بیا لبنان او سوریې ته ستانه شول. همدارنګه په ۱۹۴۸ ز. کال کې دروزو له اسراییلو سره تړون لاسلیک کړ او د اسراییلو په پوځ کې د اجباري خدمت د منلو په بدل کې يې امتیازات ترلاسه کړل. دروز ځانګړې محکمې لري چې د شخصي احوالو په اړه د یوې خپلواکې فرقې په توګه دوی ته ځانګړې دي او د دروز کلتور او ژبه عربي دي.[3]

اسراییلو په ۱۹۸۱ز. کال کې د جولان د غره ځینې برخې ونیولې او خپلې خاورې پورې يې وتړلې او د دغه غره دروزیانو ته يې اسراییلي تابعیت هم ورکړ.[4] اسراییل باور لري چې په سوریه کې اوسیدونکي دروزیان د دوې خلک دي او باید د دوی تابعیت ومني او له اسراییلو سره یوځای شي او د همدې موخې د ترلاسه کولو لپاره يې د هغوی څخه د ملاتړ په موخه پر دمشق برید وکړ.

## د سوريې حکومت او دروزو لړکيو ترمنځ ولې شخړه رامنځته شوه؟

په سوریه کې ۷۴ سلنه وګړي سونیان، ۱۳ سلنه علویان، اسماعیلیان او شیعه ګان دي، ۳ سلنه دروز او ۱۰ سلنه نور لړکي دي. یعنې دا هېواد د سني مسلمانانو میشت ځای دی.[5]




دروز له څو کالونو راهیسې د سوریې په السویداء ښار کې وسله واله ډله لري او په دغه سیمه کې د بدوي سني ډلې سره لاس او ګریوان دي. کله چې په سوریه کې د اسد رژیم ړنګ شو او احمد الشرع د حکومت چارې په لاس کې واخیستې، نو د نوي حکومت په اړه د دروزو مشرانو بېلابېل نظریات درلودل، ځینو د یوې متحدې او ګڼمذهبه سوریې ملاتړ څرګند کړ او چمتووالی يې وښود چې له لنډمهالي حکومت سره همکاري وکړي، خو ځینو نورو بیا د تعامل پرځای د تقابل دریځ غوره کړ او ستر دلیل يې دا و چې احمد الشرع وعده کړې وه چې ټولو لړکیو ته به په حکومت کې ځای ورکوي، خو له دروزو څخه یوازې یو وزیر ټاکل شوی (امجد بدر د کرنې د وزیر په توګه[6]) او په نورو بستونو کې ځای نه دی ورکړل شوی، همدارنګه دوی د ځینو نورو حقوقو غوښتنه هم کوي چې حکومت يې د ورکړې ژمنه کړې، خو حکومت وایي چې دا کارونه وخت نیسي، خو دروزو پر دې ژمنو صبر ونکړ او له حکومت سره يې جګړې پیل کړه، تر دې چې د دروزو ځینې مشران اوس د خپلواکۍ غوښتنه کوي او وايي چې تر هغې به اوربند ونکړي ترڅو يې چې خپلواکي نه وي اخیستې. په

Center for Strategic & Regional Studies (CSRS)

۲۰۲۵ز. کال کې د دروزيانو او دولتي ځواکونو ترمنځ څو ځلې نښتې ترسره شوي دي چې په کې سلګونه دروزيان وژل شوي دي[7]، په السويداء کې شخړه هغه مهال پيل شوه کله چې يو ايډيو کليپ خپور شو چې په هغې کې د دروزو يو مشر اسلام او حضرت محمد صل الله عليه وسلم ته توهين کوي، له هغې وروسته د بېلابېلو اسلامي لړکيو له لوري پر دروزي وګړو بريدونه پيل شول او دغه بريدونه دومره پراخه شول چې د سوريې حکومت اړ شو چې په السويداء کې نظامي مداخله وکړي او هلته پوځيان ولېږي. کله چې د سوريې د حکومت پوځيان السويداء کې عمليات پيل کړل، نو د عملياتو پرمهال د دروزو وسله والې ډلې مقاومت پيل کړ او همااغه وچې د سوريې حکومتي پوځيان او دروز سره ونښتل او په دې نښته کې له سلو ډېر دروزيان مړه او په سلګونو نور ټپيان شول.[8]

## پر سوريې د اسراييلو د بريد موخې

پر سوريې د اسراييلو د بريد له لارې نتنياهو غواړي چې ځينې موخې ترلاسه کړي چې دلته پرې لنډ بحث کوو:

**۱- د دروزو څخه د دفاع پلمه:** پر سوريې د اسراييلو د بريد لومړنی لامل او موخه چې د اسراييلو د لومړي وزير نتنياهو له لوري ښودل شوې هغه د دروزو څخه په سوريه کې دفاع ده. پر دمشق د اسراييلو له بريد وروسته چې په کې ۳ نفر ووژل شول، د اسراييلو لومړي وزير وويل چې دا بريد زموږ د دروزو ورونو د دفاع لپاره شوی دی او په السويداء کې بايد د هغوی پرخلاف عمليات ودرول شي او نورې ډلې هم پرېښنبودل شي چې د دروزو خلاف وسلې پورته کړي.

**۲- د فساد د قضيې له منځه وړل او يا ځنډول:** له ۲۰۲۰ز. کال راهيسې پر نتنياهو د فساد درې قضيې ثبت شوي دي، لومړی يې Case 1000: په دې قضيه کې پر نتنياهو او د هغې پر ښځې سارا تور دی چې د دوه سوداګرو څخه يې يو لک او دوه نوي زره ډالر د سياسي ملاتړ په بدل کې د ډالۍ په توګه اخيستي دي، دوهم يې Case 2000: په دې قضيه کې پر نتنياهو تور دی چې نوموړي د ارنون موزيز په نوم يو سوداګر چې يوه مشهوره ورځپاڼه چلوي داسې هوکړه کړې چې دغه ورځپاڼه به د نتنياهو په پلوی خبرونه خپروي او په بدل کې به نتنياهو هغه ته سياسي ملاتړ ورکوي. درېيم يې Case 4000: په دې قضيه کې پر نتنياهو تور دی چې نوموړي يو مخابراتي شرکت ته چې بېزق نوميږي له دولتي بوديجې پيسې ورکړي تر څو د ده او د ده د ښځې په اړه د رسنيو په ويبپاڼو کې مثبت خبرونه خپاره کړي. د دې ترځنګ نتنياهو په دوکه، رشوت او د اعتماد په ماتولو قضيو کې هم تورن دی.[9] پر سوريې د بريد څخه د نتنياهو يوه موخه دا ده چې د يو جنګي هيواد د مشر په توګه د محکمې څخه نور وخت هم وغواړي او دا قضيې له ځنډ سره مخامخ کړي، تر دې چې د اسراييلو د پارلمان (Knesset) ځينې غړي په دې باور دي چې نتنياهو د سيمه ييزو شخړو د پيلولو له لارې

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

غواړي چې د ده پر وړاندې د فساد قضيې له منځه يوسي. د اسراييلو د پارلمان يو غړی Naama Lazimi وايي: نتنياهو د اسراييلو راتلونکی او زموږ د اولادونو برخليک د خپلې محکمې د قضيې سره تړي. همدارنګه يو بل غړی Karine Elharrar وايي: نتنياهو د خپلې قانوني قضيې د ځنډولو په موخه د اسراييلو د عامه ګټو خلاف عمل کوي.[10] لنډه دا چې د نورو سيمه ييزو شخړو په څېر پر سوريې د بريد له لارې د نتنياهو يوه موخه د فساد اړوند د خپلې قضيې ځنډول او له منځه وړل دي.

**۳- د يو قوي مرکزي حکومت او د واحدې سوريې د رامنځته کېدو مخنيوی:** اسراييل غواړي چې سوريه همداسې په بېلابېلو ډلو ويشل شوې او يو کمزوری مرکزي حکومت موجود وي چې ونشي کولای ټوله سوريه تر خپلې ولکې لاندې راولي، دوی غواړي چې په دمشق او ځينو نورو ولايتونو کې مرکزي حکومت وي، په شمال کې کردان او په جنوب کې دروز او بدوي سني ډلې واکمنې وي تر څو اسراييل له دې بې اتفاقۍ او ګډوډۍ ګټه پورته کړي او په جنوب کې لاسوهنې وکړي او په ځانګړي ډول د جولان د غرونو لړۍ تر خپل کنټرول لاندې راولي.

**۴- د لوی اسراييلو دولت د جوړېدو هڅې:** اسراييل غواړي چې د لوی اسراييلي دولت د جوړېدو پلان تعقيب کړي او دوی دې قضيې ته له مذهبي اړخه ګوري، دوی وايي چې له دوی سره د لوی اسراييل ژمنه شوې او د هماغې ژمنې په تعقيب دوی هڅې کوي چې لوی اسراييل جوړ کړي، د همدې ديني-سياسي ايډلوژۍ پر بنسټ، صهيونيستي رژيم هڅه کوي خپلې پولې پراخې کړي او د ګاونډيو هېوادونو ځمکې لاندې کړي. دوی د غزې، لويديځې غاړې او د جنوبي لبنان ځينې برخې نيولې دي او اوس يې تازه پر سوريې هم بريد کړی او راتلونکې کې د دې احتمال شته چې پر عراق، اردن او د مصر پر سينا هم بريدونه وکړي او لوی اسراييلي دولت جوړ کړي. لنډه دا چې ويلای شو چې پر سوريې د اسراييلو بريد کېدای شي اوس موقتي وي، خو د سوريې خاوره به تل د اسراييلو تر ځار او مداخلو لاندې وي او دا د لوی اسراييلي دولت د جوړېدو موخه کېدای شي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)




**۵- په منځني ختيځ کې قدرت ښودنه کول:** اسراييل غواړي چې پر منځني ختيځ باداري وکړي او د دې موخې د ترلاسه کولو په لاره کې متحده ايالات هم ورسره همکاري کوي، ځکه په منځني ختيځ کې د متحده ايالاتو يوازينی مورچل چې کفری هېواد دی هغه اسراييل دی او په سيمه کې د اسراييلو برلاسي او قدرتمند کېدل د متحده ايالاتو د قدرتمند کېدو په معنی دي. پر غزې، لبنان، ايران او اوس سوريه باندې د بريد له لارې اسراييل غواړي چې په منځني ختيځ کې ځان قدرتمند وښايي او هغه هيوادونه وډار کړي چې د اسراييلو پر ضد د ځينو کړنو هڅې کوي او په منځني ختيځ کې د خپلې قدرت نمايې له لارې ځان د سيمې هژمونيک قدرت ثابت کړي.

## راتلونکې پايلې

پر سوريې د اسرييلو له بريد وروسته کېدای شي چې د سعودي عربستان او متحده عربي امارت اړيکې له اسراييلو سره خرابې شي او د دې امکان هم شته چې د سعودي عربستان او اسراييلو ترمنځ د نارملايزيشن تړون لا وځنډېږي ځکه سعودي عربستان او متحده عربي امارت هغه هيوادونه دي چې په وروستيو کې يې له سوريې ملاتړ څرگند کړی او د دې نظام تر شا ولاړ دي. همدا سعودي عربستان و چې د احمد الشرع او ټرمپ ليدنې ته يې زمينه برابره کړه او سوريه يې د متحده ايالاتو له بنديزونو خلاصه کړه او که اوس اسراييل غواړي چې سوريه گډوډه کړي، نو دا به يو ځل بيا د ايران مداخلو ته زمينه برابره کړي او دا کار هيڅکله سعودي عربستان نه غواړي او له همدې امله کېدای شي د سعودي عربستان او اسراييلو اړيکې د دې بريد له امله خرابې شي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

دویمه قضیه په سوریه کې د ترکیې او اسراییلو ټکر دی. ترکیه هغه هیواد دی چې د سوریې د اوسني رژیم په رامنځته کول کې یې رغنده رول لوبولی دی او ان تر دې چې په اوسني حکومتي نظام کې ډېر داسې چارواکي شته چې په ترکیه کې یې زده کړې کړي او د ترکیې له مستقیم ملاتړ څخه برخمن دي. ترکیه هڅه کوي چې سوریه د احمد الشرع تر مشرۍ لاندې ثبات ته ورسیږي او اسراییلو د دغه ثبات د ګډوډولو هڅه کوي، سره له دې چې ترکیه په اوس وخت کې په داسې حالت کې نه ده چې د اسراییلو سره مستقیم ټکر ته ننوځي، خو د دې امکان شته که اسراییلو په راتلونکې کې پر سوریې پراخ عملیات پیل کړي، نو ترکیه به هم غلې پاتې نشي او د دې امکان به رامنځته شي چې کېدای شي په داسې حالت کې اسراییل او ترکیه په سوریه کې له یو بل سره مخامخ شي او دغه دواړه هېوادونه په سوریه کې سره جګړې ته ښکته شي.

دریمه قضیه خپله د سوریې او اسراییلو د اړیکو ده. دا چې متحده ایالاتو له سوریې بندیزونه لرې کړل او پر رسمیت یې وپېژنده د دې تر شا کېدای شي چې د سوریې له لوري د اسراییلو سره د اړیکو د عادي کېدو قضیه موجوده وي، خو پر سوریې د اسراییلو دې برید د دواړو هېوادونو پر اړیکو منفي اغېزه وکړه او احمد الشرع او د سوریې ولس ته دا معلومه شوه چې اسراییلو د دوی هماغه پخواني دښمنان دي او له دوی سره اړیکې عادي کول او د اسراییلو په رسمیت پېژندل به ستره اشتباه وي، نو کېدای شي چې سوریه تر ډېره وخته پورې اسراییلو سره خپلې اړیکې عادي نه کړي او د نارملایزیشن تړون لاسلیک نه کړي او د دې یو ستر لامل کېدای شي دا برید وي.

## پایله

اسراییلو د سوریایي دروزو د دفاع په موخه پر سوریې برید وکړ او پلازمینه دمشق کې یې د دفاع وزارت وویشته، خو د دې موخې ترڅنګ نتنیاهو غواړي چې اسراییل په جګړه کې ښکیل وساتي تر څو محکمه د یو جنګي هیواد د ولسمشر په توګه د نتنیاهو د فساد دوسیې وځنډوي، د دې ترڅنګ اسراییل د دې جګړې له لارې غواړي چې سوریه دایمي ثبات ته ونه رسیږي او په مرکز کې یو کمزوری حکومت موجود وي او د دې ترڅنګ کردان او دروزیان د خپلو سیمو په چارو کې خپلواکه وي تر څو سوریه ملي وحدت ته ونه رسیږي او کله سوریه کمزورې وي، نو اسراییل کولای شي چې په جنوبي سوریه کې خپلې موخې تعقیب کړي، د دې ترڅنګ اسراییل د دې جګړې له لارې غواړي په منځني ختیځ کې لا قدرت ښودنه وکړي او په دې سیمه کې خپل سیال هیوادونه تهدید کړي تر څو د اسراییلو د موخو په مقابل کې ونه دریږي او د دې ټولو سربیره اسراییل د لوی اسراییلو د جوړېدو موخې هم تعقیبوي او د هغې لپاره یې د مصر سینا، اردن، لبنان، سوریه او عراق موخې دي.

د دې ترڅنګ اسراییلو په سیمه کې یوه خطرناکه لوبه پیل کړې، چې ورسره ټوله سیمه ناامنه شوې او د سیمې اسلامي هېوادونو دا درک کړې چې که اسراییل هر څومره قوي کېږي په هماغه کچه د دوی امنیت او ګټو ته ګواښ پېښېږي. پر سوریې د برید له امله کېدای شي په سیمه کې د اسراییلو او ځینو نورو اسلامي هېوادونو چې د سوریې د اوسني حکومت تر شا ولاړ دي لکه ترکیه، سعودي عربستان، متحده عربي امارت، قطر او نورو ترمنځ اړیکې خرابې شي او دا په سیمه کې د اسراییلو راتلونکی ګواښلی شي.

## وړاندیزونه

۱- اسراییلو په منځني ختیځ کې اور بل کړی او په دغه سیمه کې یې اسلامي هېوادونه تر برید لاندې نیولي دي، په غزه کې یې نسل وژنه روانه کړې، پر لبنان، ایران او سوریه یې عملاً بریدونه وکړل، په داسې حالت کې اسلامي هېوادونو ته په کار ده چې سره متحد شي او خپلمنځي سیالۍ غاړې ته کړي.

۲- په منځني ختیځ کې له اسراییلو پرته نور ټول هېوادونه اسلامي او د اسلامي هېوادونو د همکارۍ سازمان غړي دي، همدا وخت دی چې دغه سازمان را ژوندی شي او په منځني ختیځ کې د اسراییلو په مقابل کې سره یو موټي شي او پر ځینو عملي اقداماتو پیل وکړي.

۳- د اسلامي هېوادونو د همکارۍ سازمان او عرب لیګ دې په ګډه پر اسلامي هېوادونو د اسراییلو د بریدونو څخه د دفاع په مقابل کې یو اسلامي امنیتي بلاک جوړ کړي او دا د اسلامي هېوادونو د دفاع لپاره د یو امنیتي بلاک د جوړېدو ښه فرصت دی.

## سرچیني

[1] Simon Speakman Cordall. "Not just about the Druze: Israel's rationale for its attacks on Syria", Aljazeera, 17 Jul 2025, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2025/7/17/not-just-about-the-druze-israels-rationale-for-its-attacks-on-syria?utm_campaign=trueAnthem%3A

[2] Ibid.

[3] https://www.bbc.com/pashto/articles/c51y07lv807o.lite

[4] Ibid.

[5] Matthew Ward Agius. "Syria: Who are the Druze?", DW, 07/17/2025July 17, 2025, Access link: https://www.dw.com/en/syria-who-are-the-druze/a-73311140#:~:text=There%20are%20around%20a%20million%20Druze%20worldwide.%20In,are%20also%20located%20in%20Lebanon,%20Israel%20and%20Jordan

[6] ABBY SEWELL and BASSEM MROUE. "Who are the Druze in Syria, and why are they clashing with government forces? AP, July 16, 2025, Access link: https://apnews.com/article/syria-druze-clashes-explainer-sweida-bedouin-b591788d6573d48cc6aebc2edef4d649

[7] Matthew Ward Agius. "Syria: Who are the Druze?", DW, 07/17/2025July 17, 2025, Access link: https://www.dw.com/en/syria-who-are-the-druze/a-73311140#:~:text=There%20are%20around%20a%20million%20Druze%20worldwide.%20In,are%20also%20located%20in%20Lebanon,%20Israel%20and%20Jordan

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

[8] Cathrin Schaer and Omar Albam. “Latest deadly violence in Syria: What you need to know”, DW, 05/03/2025, Access link: https://www.dw.com/en/latest-deadly-violence-in-syria-what-you-need-to-know/a-72419939

[9] Farah Najjar. “Benjamin Netanyahu’s corruption trial, what you need to know”, Aljazeera, 9 Dec 2024, Access link: https://www.aljazeera.com/news/2024/12/9/benjamin-netanyahus-corruption-trial-what-you-need-to-know
[10] https://www.aljazeera.com/news/2025/6/29/trump-defends-netanyahu-attacks-israeli-prosecutors-over-corruption-trial

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز نادولتي، غیر انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمریز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سیمه کې د پالیسیو د ارزونې او بډاینې لپاره فعالیت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: info@csrsaf.org

وب سایت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000